نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۵/۱۱/۱۹

# ولسمشره! خوله دي خطا وځي که نابلده ئې

زموږ په هيواد کې اسلامي، کلتوري او دوديزو اصطلاحاتو ته په لوی لاس او يا خو له خپل کلتور او دودونو سره د نابلدتيا له امله بدلون ورکول کيږي.

د پوهنې وزارت په نصاب کې د امريکا د نړيوالي پرمختيايي اداري د پيسو او ځانګړي بودجې له امله همدا کار وشو، د هلوکانو د نومونو پرځای د نجونو نومونه په نصاب کې د دې له پاره ځای شول چې دغه کلتوري ټولنه چې کله ډاکټر ته ورشي د خپلې ميرمنې نوم ورته نه وايي له دې سره يې عادت کړي چې په عامو مجالسو کې د خپلې کورنۍ د ميرمنو نومونه يادول ورته عادي شي.

په لويديځه ټولنه کې چې ډير وخت د کوم هلک پلار معلوم نه وي ولې مور يې معلومه وي، په پاسپورټ او دهغه په تذکره کې يې د پلار د نوم له ستونزو سره مخ وو، له همدې امله اوس په لويديځ او امريکا کې تر ډيره هلوکان د مور په نوم پيژندل کيږي، او په اسلام کې اصل دادی چې اولاد او د بچيانو پيژندګلوي د پلار په نوم کيږي.

محمد (صلی الله عليه وسلم) بن عبدالله، ابوبکر بن ابي قحافه، عمر رض بن خطاب، عثمان رض بن عفان او علي رض بن ابي طالب، عبدالله ابن مسعود رض، عبدالله ابن عمر رض او داسي نور...

زموږ په کلتوري ټولنه کې هم چې کله يو ځوان مشرانو ته معرفي کيږي نو د پلار په نوم معرفي کيږي، او وايي چې د فلانکي کاکا زوی دی.

په ليري پرتو سيمو کې يو اصطلاح کارول کيږي، د ځوانانو او ځانګړي ډول هغه هلوکان چې عمرونه يې د ۱۲-۱۸ کلونو وي کله چې په يوخبره همنظره نه وي او ياخو يې تر منځ جنجال راشي نو يو هلک ورته وايي:

که ته رښتيا د خپل پلار زوی يې نو داکار به وکړي

هدف يې داوي چې مقابل لوري ته خپل زور وربښکاره کړي، او داهغه خطرناکه کليمه ده چې که مقابل لوری هغه کار چې اشاره ورته شوي ونه کړي، نو د دي جملې له امله هغه د خپل پلار حق نه شي اداء کولای، او په عموم کې يې معنی داده چې ستا پلار معلوم نه دی.

مقابل لوری بيا ورته وايي:

که داکار مې ونه کړ نو زه به د خپل پلار زوی نه يم، له همدې نه کله ناکله شخړې منځ ته راځي، حتی مرګ او ژوبله ورڅخه پيښيږي، او کله بيا دربم ګړي هلک يا هلوکان د دوو مقابل لورو ترمنځ منځګړيتوب وکړي او له جنګ او جنجال څخه يې وژغوري، يو هلک به هڅه کوي چې هغه کار وکړي چې د کوم پيغور ورکول شوی او بل هلک دې ته منتظر وي که هغه هلک هغه کار کوي دی بايد پرې حمله وکړي.

ولسمشر غني هم چې ډير وخت يې په لويديځ کې تير شوی، تير وختونه يې په اسلامي او شرعي اصطلاحاتو کې تېروتنه کړي داځل يې په يوه ډيره عامه افغاني او کلتوري اصطلاح کې لويه تېروتنه وکړه، دلته څوک داسي نه وايي چې:

که دښمن ته ننواتي ورغلم د خپلې مور زوی به نه يم، بلکې وايي که دښمن ته ننواتي ورغلم زه به د خپل پلار زوی نه يم. لا هم دلته هغه ستونزه نشته کومه چې غرب کې ده، دلته د هلوکانو پلار معلوم وي، نو ځکه يې د مور ذکر ته اړتيا نه ليدل کيږي.

دا هم بايد ومنو چې دلته په هيواد کې ډيري دينداره او په هيواد مينې ميرمنې تيرې شوي، او موږ د احمدشاه بابا مور زرغونې انا له نوم سره دهغه د پلار تر نوم ډير بلد يو، هغې کارنامه کړي وه، خپل زوی احمد ته يې ويلي و چې کله دښمن د ښار تر څنډو راورسيد نو بيا کندهار ښار پر دې نه شي ساتلای چې تر ښار ګردچاپيره ديوال راتاو کړئ.

عينو ادي بله ميرمن وه چې ميره يې له احمدشاه بابا د لښکرو سره د له هند څخه تر جګړې وروسته د شپې مهال کندهار ښار ته راستون شو، مشر يې د لښکر کسانو ته ويلي وو چې سهار به کورونو ته ځئ، خو د عينو ادې ميره پرته له اجازې په نيمه شپه کې کورته روان شو، کله چې يې له ميرمنې څخه د دروازې د خلاصيدو غوښتنه وکړه، هغې نوميالۍ ورته وويل چې د لشکر د مشر په اجازه کورته راغلی يې که پرته له اجازې په دې نيمه شپه راغلې،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

خاوند یي وویل چي په پټه راغلی یم، میرمني یي دروازه ورته خلاصه نه کړه، ورته یي وویل چي بیرته خپلو ملګرو ته ولاړ شه چي کله د لښکرو مشر درته اجازه وکړه بیا به تاته د کور دروازه خلاصیږي.
د ملالۍ میوندی نه پلار او نه مور ډیره مشهوره ده ، د دې خپله کارنامه وه.
د ولسمشر هره خبره د محاسبې وړ وي، او خلک ورته متوجه وي، د پاکستان لومړی وزیر نواز شریف ولي خبرې د کاغذ له مخي لولي؟ هغه د همدغسي تېروتنو څخه ویره لري.
د نړۍ ډیر مهم مشران به تاسي لیدلي وي چي کله واک ته رسیږي هغوی په خپلو خبرو کي ډیر احتیاط کوي او ډیر ځله یي د کاغذ له مخي لولي، خو ولسمشرغني د کاغذ له مخي هم له تېروتنو سره مخ کیږي او بیا بخښنه غواړي.
سلیمان لایق چي زه یي له افکارو او پخوانیو کړنو سره مخالف یم خو داخبره یي ماته خوند راکوي چي وایي په خره سپرېدل یو شرم دی او له خره څخه کښته کېدل بل شرم دی. اصلاً خو دا د پښتنو یو متل دی، خو د سلیمان لایق په خوله ځکه خوند راکوي چي هغه وایي چي کوم څه مي کړي او داچي په خره سپورشوی وم، اوس که په نیمه لاره کي ورڅخه کښته کیږم او د خلکو د خندا له امله داکار کوم دا بل شرم دی.
دښمن ته ننواتي نه ورځم، معامله نه کوم، هیواد تجزیې ته نه پرېږدم.
د کمپاین پرمهال چي اشرف غني اماراتو ته ولاړ او طالبانو څخه یي غوښتني درلودلي چي که طالبان د ولسمشریزو ټاکنو پر مهال لږ سهولت وکړي، آیا دا ننواتي نه وه؟ کوم داسي طالب چي اوس هم د طالبانو په لیکو کي مهم رول لري تاسي ته کله کابل ننواتي راغلي دی؟
داچي تاسي ویل چي سهامي شرکت به نه جوړوم او له هیچا سره به دواک پر سر جوړجاړی ونه کړم، آیا له عبدالله عبدالله سره واک شریک کول ستاسي له خوا هغوی ته خیرات وو؟
داچي تاسي په هرات کي وویل چي نور به د معدنونو ډبري نه قاچاق کیږي، او که چا له دي ورځي ورسته قاچاق وکړ او مایې مخه ونه نیوله زه به د خپلي مور زوی نه یم، پر سبا یي قاچاق کوونکو ستاسي د سپکاوي له امله د قاچاق ډبرو د کاروان ویډیو خپره کړه، آیا تاسي هغه ویډیو ونه لیدله؟
داچي ملاعبدالسلام ضعیف صاحب مو له قطر څخه راوغوښت او په ارګ کي مو دوه په دوه ورسره ولېدل هغه درته وویل چي ستاسي دا ډول پیغام زه طالبانو ته نشم رسولای، ولسمشره دا ننواتي نه ده؟
داچي له پاکستان سره مو امنیتي تړون وکړ او دولس د فشار له امله د تعلیق په حالت کي پاتي شو، آیا دا معامله نه وه؟
داچي پاکستان ته مو د پاکستاني طالبانو د ډلي مرسیتال حکیم الله مسود وسپاری آیادا معامله نه وه؟
داچي سعودی، چین او پاکستان ته مو سفرونه وکړل چي پر طالبانو فشار راوستل شي، آیا دغو هیوادونو ته ستاسي ننواتي نه وه؟
داچي له ډاکتر عبدالله عبدالله سره مو موازي حکومت ومانه، آیا د هیواد د تجزیې له پاره لومړني قدمونه نه دي؟
داچي په شمال کي واک هغه چا ته وسپاری چي هغوی عملاً د هیواد د تجزیې له پاره کار کوي، آیا دا به تاریخ نه لیکي چي ستاسي په وخت کي د امریکایي سناتورانو جان مکین او ګراهم د افغانستان د تجزیې پلان عملي کیږي.
داچي هغه چاته واک بیاځل سپارئ چي هغوی وایي چي شمال لس کاله وروسته جلا کوو، ولي یي اوس نه جلا کوو، آیا تاریخ به له هیواد سره ستاسي دغه دښمني پټه کړي؟
او داچي د واک له پاره مو له امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک کړ، آیا معامله نه وه، چي هیواد کي پردي پوځیان زموږ ولس ووژني.
داچي په انګور اډه کي پاکستان دروازه جوړوي، داچي د ننګرهار په ځینو سیمو کي د پاکستان له خوا د افغانستان خاوره لاندې کیږي، او حکومت پري سترګي پټي کړي آیا تر شا یي معامله نه ده شوې؟
باوري یم چي پرته له سولي چاره نه لرو، داکه په ننواتي کیږي، که په زور کیږي او که له بې طرفه افغانانو څخه د مرستي په غوښتلو کیږي، موږ ولس سولي ته اړتیا لرو، جګړي ځپلي یو، او له جګړو څخه ستړي شوي یو، امید دی چي د سولي له پاره عملي اقدام وکړئ، او زه خو وایم که ته ریښتیا د خپل پلار زوی یي نو د سولي له پاره به عملي اقدام وکړي، ولس ته به امن راولئ، د خپل واک د بقا له پاره به افغان ولس په پردیو ونه وژنئ.
په پای کي د دې له پاره چي څوک غوصه او خفه نه شي، د ډاکتر انوارالحق احدي صاحب داخبره مي ډېره خوښه شوه چي ویل یي دوستان او خواخوږي سړی تر هغه ډیر لوړ او مهم ښیئ څومره چي وي، د سیاستوال له پاره همداسي په کار ده چي پر دې خبره پوه شي چي خلک یي بې ځایه لوی او غټ ښیي، او سیاستوال باید پر دې پوه شي چي څومره واک، صلاحیت او زور لري
پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ